په اروپا کی دمیشته افغانانو د تولنو فدراسیون

فدراسیون سازمانهای پناهندگان افغان در اروپا

**Federation of Afghan Refugee Organizations in Europe**

لیدن-22 د سمبر 2008

# پریکړه لیک

**"د هېواد په ودانولو کې د خلکو د ونډې اخیستلو څرنګوالي"**
**په هکله نړیوال کنفرانس**




په اروپا کې مېشتوکډوالو د ټولنوفدراسیون (FAROE) د خپلو کلنیو کنفرانسونو په لړی کې، د ۲۰۰۸م میلادي کال خپل کنفرانس لپاره د هیواد په ودانولو کې د خلکو د ونډې اخیستلو څرنګوالي موضوع غوره کړې وه.

کنفرانس د ۲۰۰۸م میلادي کال د د سمبر له ۱۹مي څخه تر ۲۱مي پورې د پنځوسو څخه زیاتو صنفي، کلتوری، ټولنیزو او سیاسي بنسټونو، دافغانستان دپاره د سویدن کمیته، دستکهلم دقلم کلوب او لسګونو په اروپا کی مستقل میشتو افغانی شخصیتونو په ګډون سرته ورسید.

کنفرانس د هیواد وضعې د بهیر له څېړلو څخه وروسته، د امنیتي او سیاسي وضعې له وخامته، پراخه بې وزلۍ او په خاصه توګه دناتو او د ترهه ګرۍ پر ضد نړیوالې ټلوالې له خوا د ملکي خلکو د زیاتېدونکو وژلو له امله خپله ژوره اندېښنه څرګند کړه.
کنفرانس په ملکی اهدافوباندی دترهګرو انتحاري یرغلونه اودهغوی لخواد ملکي خلکو وژنې هم په کلکه وغندلې.

کنفرانس د جګړو او درولسیزو تاوتریخوالو قربانیانو د میندو له مظاهرو څخه، چې دملګرو ملتونو د دفتر مخې ته راټولې شوې وې، په کلکه ملاتړ کوي.

نړیوال کنفرانس لاندنی ټکي دخلکودونډه اخیستنی دتامین دپاره ضروری وبلله:
۱) د اقتصادی بنسټ پر جوړولو ټینګار او په بهر کې میشتوافغانانو تخصصی ګروپونو د جوړولو له لارې پدغه بهیرکی برخه اخیستل ؛
۲) په بهر کی دمیشته افغانانولخواد بېلابېلو ټولنیزخذمتونو د وړاندی کولوله لارې د خلکو د ژوند په پرمختیا کی برخه اخیسل او دهغوی یوه برخه په کارونو کې ګمارل؛
۳) د معنوی پرهارونو د جوړولو لپاره د جمعي رسنیو له لارې د افغنستان معنوی بیا رغولو ته پاملرنه. دافغانستان دخلکومشکلاتوته ددنړی دعامه افکارودپاملرنه جلبول.
۴) ملي یووالي ته د رسېدو په موخه د خلکو د سیاسی پوهې د اوچتولو په لارکی درسنیورښتینی هڅې؛
۵) د انتقالي عدالت پلي کولو لپاره مبارزه، په افغانستان کې د جنګی جنایتونو او د بشر دحقوقو په تیري کولو تورن کسان له سیاسی اوادارې صحنی څخه په لېرې کولواو محکمو ته ددوی دسپارولو په ضرورت باندی تینګار؛
۶) د اداري فساد پر ضد مبارزې کې ونډه اخیستل؛
۷) د افغاني ټولنې د پرمختګ او پراختیا لپاره د ښځو فعاله ونډه اخیستل او سمون؛
۸) په افغانستان کې ښکېلو هېوادونو او سازمانونو پر سیاست اېښودونکو باندې د زور اچولو په موخه په بهر کې مېشتو افغانانو د غبرګون لپاره د افغاني جرګې جوړول؛
۹) په بهرکې د ځوانانو، نویو ځوانانو او ماشومانو او په افغانستان کې د ننه ځوانانو، نویو ځوانانو او ماشومانو ترمنځ د اړیکو او معلوماتو د تبادلې لپاره د زمینې اوارول؛
۱۰) د FAROE په مرسته د یوې انټرنېټي پاڼې له لارې د استعدادونو او ظرفیتونو د ثبتولو لپاره د یوه معلوماتي بانک منځ ته راوړل.
د پورتني پرېکړه لیک لس واړه مادې د ګډون کونکو ډېرکی په خوښه ومنل شوه .



FAROE, Post Box 707, 2300 AS, Leiden, **www.afghandiaspora.org**, faroe_af@hotmail.com